

# افغانستان

**په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو خوندي ساتنه**

کلنی راپور ۲۰۱۸

د افغانستان لپاره
د ملګرو ملتونو
مرستندویه پلاوی

د بشري حقونولپاره
د ملګرو ملتونو
د عالي کميشنرۍ دفتر

فبروری ۲۰۱۹
کابل، افغانستان


AFGHANISTAN
ADMINISTRATIVE DIVISIONS
Afghanistan
TURKMENISTAN
UZBEKISTAN
TAJIKISTAN
CHINA
IRAN
PAKISTAN
INDIA
Jammu and Kashmir
BADAKHSHAN
Faiz-Abad
JAWZJAN
Shiberghan
BALKH
Mazar-e-Sharif
KUNDUZ
Kunduz
TAKHAR
Taluqan
Aybak
SAMANGAN
Saripul
SARI PUL
Maimana
FARYAB
Pul-e-Khumri
BAGHLAN
Poruns
NURISTAN
Bazarak
PANJSHER
Chaharikar
PARWAN
Mahmudi Raqi
KAPISA
KUNAR
Asadabad
LAGHMAN
Mehtarlam
Kabul
KABUL
Jalalabad
NANGARHAR
Qala-i-Naw
BADGHIS
BAMYAN
Bamyan
Herat
HERAT
Cheghcharan
GHOR
WARDAK
Maydan Shahr
Pul-e-Alam
LOGAR
Gardez
PAKTYA
KHOST
Khost (Matun)
Nili
DAYKUNDI
Ghazni
GHAZNI
Sharan
PAKTIKA
URUZGAN
Tirin Kot
FARAH
Farah
ZABUL
Qalat
Kandahar
KANDAHAR
Lashkar Gah
HILMAND
Zaranj
NIMROZ
0 50 100 200 300 Kilometers
DISCLAIMER
The boundaries and names shown and the designations used on this map do not imply official endorsement or acceptance by the United Nations.
Dotted line represents apporximately the line of Control in Jammu and Kashmir agreed upon by India and Pakistan. The final status of Jammu and Kashmir has not yet been agreed upon by the parties.
Geographic Coordinates: WGS84
Production Date: February 2017
Capital
Provincial Center
Main Road
International Boundary
Jammu and Kashmir
Regional Boundary
Provincial Boundary
River
GIS UNAMA
UNAMA

په لومړي مخ تصوير © عمر سبحاني رویترز:

د لومړي مخ تصوير: د ۲۰۱۸ کال د اپريل په ۳۰ مه د کابل ښار کې د ژورنالستانو يو ډله او لومړنيو مرستو رسونکي ځان مرګي بريد کې حصار پاتي شول. د يو ښځي په شمول نهه ژورنالستان ووژل شول او نور شپږ تنه هغه وخت ټپيان شول چې يو جعلي هويت لرونکی چې ځان يې ژورنالست معرفي کولو او کيمره يې د ځان سره درلوده له ځان سره چاوديدونکي وسيله وچوله. بريد ګر دې منتظر و چې مرسته کونکي او رسنيو کسان د د دې د مخه د لومړی پيښي ځای ته راورسيږي، چې په موټرسايکل سپاره ځان مرګي بريدګر له خوا د ملي امنيت په امنيتي پوسته تر سره شو. داعش/ د خراسان ولايت د اسلامي دولت له خوا د دواړه بريدونو پړه په غاړه واخستل شوه چې په ټوليز ډول د څلورو ماشومانو په ګډون ۶۳ ملکي تلفات ( ۲۱ مړه او ۴۲ ټپيان) واړول.

دا راپور او په وسله واله شخړه کې د ملکيانو د ساتني ټول راپورونه چې دلته يې حواله ورکړل شوي د يوناما په ويب پاڼه په لاندي پته د لاسرسي وړ دي:

https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

**ماموریت**

په افغانستان کې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د خونديتوب اړوند د ۲۰۱۸ کال دغه راپور، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له خوا چمتو شوی، چې د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د ډسمبر تر ۳۱ نېټې پورې موده رانغاړي.

دغه راپور د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د هغه صلاحيت او واک له مخې چمتو شوی، چې د ملګرو ملتونو د امنيت شورى له خوا د ۲۴۰۵ (۲۰۱۸) پريکړه ليک پر بنسټ یوناما ته ورکړل شوی تر څو د ملکي وګړو وضعيت وڅاري، د دوي د خونديتوب د باوري کېدو په موخه هڅې همغږې کړي، [. . . ] حساب ورکول تقويه کړي او د بنسټيزو ازاديو او بشري حقونو د احکامو، چې د افغانستان په اساسي قانون او نړيوالو تړونونو کې، چې افغانستان يې غړيتوب لري تسجيل شوي دي، په بشپړ ډول پلي کيدو کې مرسته وکړي، په ځانګړي ډول د هغو احکامو په پلي کولو کې چې د ښځو له خوا د هغوی له ټولو حقونو څخه د برخمن کيدو سره تړاو لري.

د ملګرو ملتونو د امنيت شورى ۲۴۰۵ (۲۰۱۸) شميره پريکړه ليک چې په افغانستان کې د وسله والو شخړو په ترڅ کې د ملکي وګړو د وضعيت او په ځانګړي توګه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړوند رواني څارنې او راپور ورکونې ته اهميت ورکوي.

یوناما يو لړ فعاليتونه تر سره کوي چې هدف يې په ملکي وګړو د جګړې د اغيزو راکمول دي لکه: په خپلواکه او ناپيلي ډول د داسې پېښو څارنه چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځي؛ په وسله والو جګړو کې د زيانمن شويو ملکي وګړو د ساتنې د تقويې په موخه ملاتړ؛ او د داسي نوښتونو پيل چې د نړيوالو بشري حقونو ، د بشر پالنې د نړيوال قانون ، د افغانستان د اساسي قانون په شمول د ژوند حق او جسمي سلامتی او د افغانستان نور قوانينو سره سمون ولري او په جګړه کې د ټولو ښکيلو غاړو له لوري رعايت شي.

دا راپور د افغانستان د پاره د ملګرو ملتونو مرستندويه ماموريت ( یوناما) او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمشنرۍ دفتر په ګډه چمتو کړی.

**میتودولوژي**

له ۲۰۰۹ کال راهیسې، یوناما په افغانستان کې د جګړې ښکیلو خواوو ته منسوب شوي ملکي تلفات د یوې منسجمې میتودولوژۍ په کارونې سره په سیستماتیک ډول مستند کوي، کوم چې د کال په کال د جریان شننې او راپور ورکونې لپاره زمینه برابره کړې ده. د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما کار د بشري حقونو او د بشرپالنې د نړیوالو قوانینو د اصولو پر بنسټ ولاړ دی، او میتودولوژي یې د غوره کړنو او د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر د سلا مشورو او لارښوونې پر اساس رامنځ ته شوې.

د ملکي تلفاتو شتون په دې مانا نه دی چې سرغړونه ترسره شوې، که څه هم د ملکي تلفاتو لوړې شمیرې ښایي د سرغړونو ښکارندوي وي یا د زیان نمونې منعکس کړي.

**تاییدونه او د ثبوت معیار**

د ملکي وګړو د ساتنې د راپورونو په موخه، یوناما په راپورونو کې یوازې تایید شوي ملکي تلفات شاملوي.[1] د تایید شویو تلفاتو په څیر هغه ثبت شوي ملکي تلفات دي، چې د هغو معلوماتو د بشپړتیا پر بنسټ وي چې یوناما بیا کتلي وي، دا یې معلومه کړې وي چې د دې څرګند او قناعت وړ شواهد شته چې ملکي وګړي وژل شوي یا ټپي شوي. د دغه معیار د پوره کولو لپاره، یوناما لږ تر لږه درېو مختلفو او خپلواکو سرچینو ته اړتیا لري لکه قرباني، شاهدان، طبي ماهرین، ځایي چارواکي، په جګړه کې د ښکېلو غاړو له خوا تایید، قومي مشر او یا نوري سرچینې. تر هغه ځایه چې شونې ده معلومات د قربانیانو یا د پېښو د شاهدانو او د پېښې په ساحه کې د حقیقت موندنې کتنو له لومړنیو راپورونو څخه ترلاسه شوي. د امنیتي ستونزو له امله چې د پیښې ځای ته لاس رسي اغیزمن کوي، د حقیقت موندنې دغه ډول څېړنې تل شونې نه وي. په دغه ډول شرایطو کې یوناما پر یو لړ تخنیکونو اتکا کوي چې د پراخو باوري شبکو له لارې تر شونې حده د پراخو سرچینو او معلوماتو په کارولو سره معلومات ترلاسه کړي، چې ټول یې د اعتبار او باور لپاره ارزول کیږي. په دغو تخنیکونو کې د جرم له صحنو څخه د راغونډ شوي ډیجټلي شواهدو ازموینه لکه ویډیويي انځورونه او غږیز ریکارډونه؛ د روغتونونو او روغتیایي مرکزونو څخه لیدنې؛ د ملګرو ملتونو د امنیت او خوندیتوب د څانګې او نورو ادارو راپورونه؛ د دوهم لاس سرچینې؛ د نا دولتي ادارو او د دریم لوري له خوا راغونډ شوي معلومات؛ او په خپله په جګړه کې ښکیلې خواوې شامل دي. یوناما په فعال ډول د جنډر په لحاظ له بیلا بېلو سرچینو سره او همدارنګه د نژادي لیږکیو، قومي او مذهبي ډلو او په ټولنه کې له منزوي شویو ډلو سره مشوره کوي، څو د نظریاتو تنوع یقیني او د هر ډول تبعیض خطر راکم کړي.

کله چې یوناما د ملکي تلفاتو په اړه د معلوماتو له کیفیت او کمیت څخه نه وي ډاډمنه ، نو هغه تلفات د تایید شویو هغو په څیر په پام کې نه نیسي. په دې راپور کې ناتایید شوي پېښې نه دي ځای شوي. یوناما د پیښو په اړه معلومات د جګړې له ښکیلو خواوو سره شریکوي څو په خپله راپور ورکونه کې کره والي یقیني کړي، له ښکیلو خواوو سره د مخه نیوونکو او احتیاطي تدابیرو په نیولو کې مرسته وکړي، او قربانیانو ته د خسارې د جبران د برابرولو په ګډون، احتساب ته وده ورکړي.

**د سرچینو ساتنه**

د ملکي تلفاتو د پیښو د مستند کولو پرمهال، یوناما له هر ډول ممکنه غچ څخه د معلوماتو د برابرونکو زیانمنیدونکو سرچینو ساتنې ته پام کوي، لکه په خوندي موقعیتونو کې لیدنه، له مروجو ټولنیزو نورمونو سره سم له ښځو سره د مرکو ترسره کول او په هغو سیمو کې د حقیقت موندنې څیړنې نه ترسره کول، چې ښایي سرچینې له ګواښ سره مخ کړي.

**د مسوولیت منسوبونه**

څرنګه چې په جګړه کې ډیرې غاړې ښکیلې دي، یوناما هره هڅه کوي چې د امکان تر حده په دقیق ډول په ملکي مرګ ژوبله کې مسؤل لوری په کره او مشخصه توګه په ګوته کړي. خو له عملیاتي چاپیریال سره د ملو ننګونو له امله ښایي دغه کار تل شونې نه وي. د مثال په ډول، لومړنۍ سرچینې ښایي د دې وړ نه وي چې مسوولې خواوې په څرګند ډول معلومې کړي یا په هره پیښه کې د مختلفو نظامي فعالینو او د وسله والو ډلو د غړو ترمنځ توپیر وکړي او ښایي هر وخت د کوم لوري له خوا مسوولیت منل شوي نه وي. یوناما د هرې ملکي مرګ ژوبلې مسوولیت یا دولت پلوه ځواکونو یا دولت ضد عناصرو، په ګډه دواړو ډلو، یا نا معلوم لوري ته منسوبوي. د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ د ځمکنیو نښتو په پیښو کې په کومو کې چې ملکي تلفات یوه لوري ته نه شي منسوب کیدای، یوناما د تلفاتو مسوولیت په ګډه دواړو ډلو ته منسوبوي او هغه د "دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو" په څیر ثبتوي. چیرې چې مړینې له جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوې وي، او په پریکنده ډول یوه خوا یا خواوو

---

[1] یوناما همدارنګه هغه پیښې مستند او تاییدوي چې د ملکي شتمنۍ د زیان لامل شوې وي.

ته نه شي منسوب کيدای، يا ښايي د پخوانيو جګړو پاته شوني چاوديدونکي توکي وي، دغه ډول پيښې د "نامعلوم مرتکب" په څير ډلبندي کيږي.

**د قربانيانو د ملکي وضعيت معلومول**

په ځينو پيښو کې، د راپور شويو قربانيانو ملکي وضعيت نه شي کيدای په پريکنده ډول معلوم شي يا يې پر سر اختلاف موجود وي. يوناما ملکيان د هغو وګړو په څير معرفي کوي، څوک چې د وسله والو ځواکونو غړي يا د تنظيم شوې وسله والې ډلې غړي نه وي. يوناما هغه تلفات نه مستند کوي چيرې چې ملکيانو د مړيني يا ژوبلې پرمهال په مستقيم ډول جګړو کې برخه اخيستې وي، نه د هغو افرادو مړينه او ژوبله مستند کوي څوک چې له بريدونو څخه خوندي وي خو د بشرپالنې تر نړيوال قانون لاندې ملکي کسان نه شميرل کيږي، لکه له جګړې لويدلي اشخاص يا د وسله والو ځواکونو طبي او ديني پرسونل.[٢] يوناما د جګړې وړ عمر لرونکي نارينه افراد ملکيان يا جنګيالي نه انګيري.خو پر ځای يې دغه ډول ادعاوې په هر انفرادي تلفاتو پورې اړوند د موجوده حقايقو پر بنسټ ارزوي او مستند کوي. چيرې چې پوره معلومات نه وي موجود، دغه ډول تلفات په احصائي راپور ورکونه کې نه شامليږي.

يوناما ادعا نه کوي چې په دغه راپور کې وړاندې شوې احصايې بشپړې دي او مني چې په عملياتي چاپيريال کې د محدوديتونو په پام کې نيولو سره ،کيداي شي د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې پوره راپور ورکړل شوي نه وي.

**د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کميسيون سره همغږي**

يوناما د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کميسيون سره همغږي او همکاري کوي، په ځانګړي ډول د پيښو په اړه د حقيقت موندنې په ترسره کولو او د ټولو جرياناتو او طرحو په شننه کې د نوموړي کميسيون د ځانګړو څيړنو له ټيم سره. يوناما او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون وخت نا وخت د ځارنې ګډ ماموريتونه ترسره کوي.

---

[2] د لا زياتو معلوماتو لپاره لومړی ضميمه: د حقوقي چوکاټ او دريیمه ضميمه: د ملکيانو او د ملکي تلفاتو د تعريف لپاره د اصطلاحګانو برخه وګورئ

**د راپور لنډيز**

د ټوليزو ملکي تلفاتو په درلودلو سره، د ماشومانو د مړينې په شمول، په افغانستان کې وسله والې شخړې په ۲۰۱۸ کال کې په دوامداره توګه ملکي کسانو ته د نه منلو وړ ډير زيان اړولی. يوناما د وسله والې شخړې په پايله کې ټولټال ۱۰۹۹۳ ملکي تلفات (۳۸۰۴ مړينې او ۷۱۸۹ ټپي کيدنې) مستند کړې، دا د ۲۰۱۷ کال[3] په پرتله د ټولو ملکي تلفاتو په برخه کې پنځه سلنه زياتوالی او د ملکي تلفاتو په برخه کې ۱۱ سلنه زياتوالی څرګندوي. که څه هم چې د ځمکنيو نښتو په پايله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې دوامداره کموالی را منځ ته شوی، خو دا کموالی د دولت ضد عناصرو، په تيره بيا د داعش/ اسلامي دولت خراسان څانګې له خوا د ځانمرګي بريدونو[4] په پايله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې د پام وړ زياتوالي ښيې، د هوايي بريدونو او تلاشي د عملياتو په پايله کې ملکيانو ته د زيات زيان اوښتو له امله متاثره شوی. ځانمرګو بريدونو او هوايي عملياتو هر يوه په خپل وار زيات ملکي تلفات اړولي کوم چې د يوناما له خوا د دغو تاکتيکونو په پايله کې مستند شوي.

په ۲۰۱۸ کال کې دولت ضد عناصر په دوامداره توګه د زياتو ملکي تلفاتو لامل شوي. په ۲۰۱۸ کال کې په ځانمرګي او غير ځانمرګي بريدونو کې د دولت ضد عناصرو له خوا د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو کارول د ملکي تلفاتو مخکښه لامل پاته شوی چې د ټولو تلفاتو ۴۲ سلنه جوړوي. د ټولو ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو د تاکتيکونو په پايله کې د ملکي تلفاتو په شمير کې ۱۱ سلنه زياتوالی راغلی، دا د ځانمرګو ځای پر ځای شوی چاوديدونکو توکو په پايله کې د ۲۲ سلنې زياتوالي له امله را منځ ته شوی، ملکي تلفات د ريکارډ لوړو کچو ته رسيدلي.[5] په داسې حال کې چې غير ځانمرګو ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو نږدې ۱۷ سلنه تلفات را منځ ته کړي، ځانمرګي ځای پر ځای شوي چاوديدونکي توکي د ټولو ملکي تلفاتو د نږدې ۲۶ سلنې لامل شوي، د ځانمرګو او غير ځانمرګو ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو په پايله کې ټولټال ۴۶۲۷ ملکي تلفات (۱۳۶۱ مړينې او ۳۲۶۶ ټپي کيدنې) را منځ ته شوي. په ملکي ګڼ ميشتو سيمو کې د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو، د بيلګې په توګه د ځانمرګي او د فشار په ذريعه د فعاليدونکو توکو بې توپيره او ناقانونه کارولو او همدارز د ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو د کارولو له لارې د ملکيانو مخ پر زياتيدونکي عمدي په نښه کول د زياتې اندېښنې وړ دي.




---

[3] له هغه راهيسې چې يوناما په ۲۰۰۹ کال کې په منظم ډول د ملکي تلفاتو ثبتول پيل کړي، يوناما ۹۱۶۵۷ ملکي تلفات ثبت کړي (۳۲۱۱۴ مړينې او ۵۹۵۴۱ ټپي کيدنې). په ۲۰۱۷ کال کې، يوناما ۱۰۴۵۹ ملکي تلفات تصديق کړي (۳۴۴۰ مړينې او ۷۰۱۹ ټپيان).

[4] يوناما د "ځای پر ځای شويو ځانمرګو چاوديدونکو توکو" يا "ځانمرګو بريدونو" اصطلاح کاروي څو هغه ټول بريدونه پکې شامل وي چيرته چې مرتکب ځای پر ځای شوي چاوديدونکي توکو کاروي، معموما په ځان پورې تړل شوي چاوديدونکي توکي يا په موټر کې ځای پر ځای شوي چاوديدونکي توکي، چې د چولو سره سم د هغه يا هغې په مړينه تمام شي. په دې کې 'پيچلي بريدونه' هم شامل دي. دريمه ضميمه وګورئ: لغتونه.

[5] په ۲۰۱۸ کال کې د ۲۰۱۷ کال د دوو سلنو په پرتله، د غير ځانمرګو ځای پر ځای شويو چاوديدونکو توکو په نتيجه کې د ملکي تلفاتو شمير کم شوی.

کابل ولایت هغه سیمه ده چې تر ډیره بریده د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د کارولو له امله ډیره متاثره شوې، په داسې حال کې چې په ننګرهار ولایت کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکوتوکو له امله ملکي تلفات څلور برابره لوړ شوي ( تر ډیره د غیر ځانمرګي بریدونو په پایله کې )، دا لومړي ځل دي چې ننګرهار د کابل ولایت کچې ته رسیږي.[٦]




ځمکنۍ نښتې، په تیره بیا د دولت پلوه او دولت ضد عناصرو تر منځ[٧]، د ملکي تلفاتو د دوهم لوړ لامل په حیث پاته شوې، چې ۳۱ سلنه یا ۳۳۸۲ ملکي تلفات (۹۱۴ مړینې او ۲۵۶۸ ټپي کیدنې) دي. دا دری سلنه کموالی څرګندوي، دا د ۲۰۱۷ کال راهیسې د هغه تمایل دوام دې چې یوناما د پام وړ کموالی مستند کړ.[٨] د ځمکنیو نښتو د تلفاتو په برخه کې دغه دوامداره کموالی د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو په برخه د کموالي له امله را منځ ته شوی، په داسې حال کې چې دولت ضد عناصرو ته د تلفاتو منسوب شوې کچې د ۲۰۱۷ کال په څېر په ځای پاته دي. یوناما یادونه کوي چې یو شمیر زیاتو فاکټورونو د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو د کموالي د مسلې سره مرسته کړې، په هغو کې په ځمکنیو نښتو کې بدلون او په کم میشتو سیمو کې عملیات، د جګړو په اړه ملکیانو ته د خبرداري ورکول او د ملکي کسانو د ښه خوندیتوب لپاره د پالیسي ګانو دوامداره پلي کول شامل دي.[٩]

---

[6] په ۲۰۱۸ کال کې، یوناما لاندې موارد ثبت کړي: په کابل ولایت کې ټولټال ۱۸۶۶ ملکي تلفات (۵۹۶ مړینې او ۱۲۷۰ ټپژې کیدنې). د دغو له جملې څخه ځان مرګي او غیر ځانمرګي ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي ۹۸ سلنه یا ۱۸۱۵ ملکي تلفات (۵۷۶ مړینې او ۱۲۳۹ ټپي کیدنې) جوړوي، دا د ۱۷۶۹ ملکي تلفاتو (۴۶۱ مړینې او ۱۳۰۸ ټپي کیدنو ) په پرتله په ۲۰۱۷ کال کې د ځانمرګو او غیر ځانمرګو ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په پایله کې را منځ ته شوي. په ننګرهار ولایت کې، یوناما په ۲۰۱۸ کې ۱۸۱۵ ملکي تلفات ( ۶۸۱مړینې او ۱۱۳۴ ټپي کیدنې) ثبت کړي. له دې جملې څخه ځانمرګی او غیر ځانمرګي ځای پر ځای شویو چاودیدونکي توکي ۶۵ سلنه تلفات، یا ۱۱۶۶ ملکي تلفات (۳۱۴ مړینې او ۸۵۲ ژوبل) جوړوي، د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله کې په ننګرهار کې د دغو تاکتیکونو په پایله کې ۲۶۹ ملکي تلفات (۷۴ مړینې او ۱۹۵ ژوبلې) را منځته شوې.

[7] یوناما د دولت پلوه عناصرو، په تیره بیا د طالبانو او داعش تر منځ په ځمکنیو نښتو کې ۵۰ ملکي تلفات ثبت کړي.

[8] په ۲۰۱۷ کال کې، یوناما د ځمکنیو نښتو په پایله کې ټولټال ۳۴۸۵ ملکي تلفات (۸۲۴ مړینې او ۲۶۶۱ ټپي کیدنې) مستند کړې، دا د ۲۰۱۶ کال د ورته مودې په پرتله د داسې ملکي تلفاتو په شمیر کې ۲۳ سلنه کموالی ښیي.

[9] ۵ څپرکی وګورئ: ځمکنۍ نښتې: د ډزو په تبادله کې راګیر ملکیان او ۶ څپرکی: د ملکي کسانو د تلفاتو د راکمولو پالیسې ګانې او میکانیزمونه، د احتساب د هڅو په شمول.

د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي کسانو په وړاندې د هدف نيولو عمدي بريدونه چې زياتره يې د ځانمرګي او ډله ييزو بريدونو له امله را منځ ته شوي، د زياتي اندېښنې وړ دي، دا د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله ۴۸ سلنه زياتوالی ښيي، چې دا په ۲۰۱۸ کال کې ۴۱۲۵ ملکي تلفاتو (۱۴۰۴ مړينې او ۲۷۲۱ ټپي کيدنې) ته لوړ شوې.[10]

د داعش/ اسلامي دولت د خراسان څانګي له خوا د ملکيانو د عمدي هدف نيولو په پايله کې د ملکی تلفاتو شمير دوه برابره شوی، په ۲۰۱۷ کال کې تلفات ۸۴۳ وه خو په ۲۰۱۸ کال کې ۱۸۱۷۱ وه ، دا تلفات تر ډيره د ځانمرګو او ډله ييزو بريدونو په پايله کې را منځ ته شوې چې ملکيان يې هدف نيولي، په دې کې د شيعه لړکيو په وړاندې فرقه يي انګيرل شوې بريونه شامل دي.

د طالبانو له خوا د ملکي کسانو د عمدي هدف نيولو په پايله کې د ملکي تلفاتو په شمير کې نږدې دوه برابره زياتوالی راغلی، يعنی د تلفاتو شمير په ۲۰۱۷ کال کې ۹۱۶ و چې دا بيا په ۲۰۱۸ کال کې ۱۷۵۱ ته لوړ شو. دا زياتوالی تر ډيره په کابل کې د جنوري د ۲۷ نيټې د ځانمرګي امبولانس موټر بم د هغې پيښې سره تړاو لري، کومه چې تر ټولو وژونکې پيښه وه او کومه چې د يوناما له خوا تر اوسه مستنده شوې ، دا زياتوالی همدارنګه د اکتوبر په ۲۰ د ټاکنو په تړاو (د رای ورکولو په ورځ) د هغو بريدونه سره هم تړاو لري چې کله يوناما په ۲۰۱۸ کال کې د ملي تلفاتو دومره لوړ ارقام په يوه ورځ کې مستند کړې.

يوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي کسانو د تلفاتو په برخه کې چې د انفرادي کسانو د عمدي وژنو ، په تيره بيا د ويشتلو په پايله کې را منځ ته شوې کموالی مستندې کړي.[11] په هرصورت، يوناما په ځانګړې توګه د دولت ضد عناصرو لخوا د مذهبي مشرانو او قومي مشرانو په شمول د ملکي وګړو د دوامداره هدف نيولو په اړه انديښمنه ده.

د ټاکنو د مياشتو په درشل او د رای ورکولو د ورځو په جريان کې، يوناما د دولت ضد عناصرو په تيره بيا د طالبانو له خوا د خشونت د يوه تنظيم شوې کمپاين څخه د ټولټاکنو په تړاو د پيښو د نظارت له لارې پرده پورته کړه څو ټاکنو ته زيان ورسوي ترڅو افغانان په ټاکنيزو پروسو کې د ونډې او ازادانه ګډون څخه راوارزوي. دا د ملکي موخو په وړاندې او په ملکي ګڼ ميشتو سيمو کې يو شمير بريدونه احتوا کوي ، او په دې کې همداراز د تښتونو، ګواښونو، تهديدونو او ځورونو د انديښنې وړ بڼې هم شاملې وې. د ۲۰۱۸ کال د اپريل د ۱۴ څخه د ۲۰۱۸ کال تر پايه د رای ورکونکو د راجستر کولو د مودې په پيل سره، يوناما د ټاکنو په تړاو د ټولټال ۳۱۰ ملکيانو د تښتولو تر څنګ، د ټاکنو په تړاو ټولټال ۱۰۰۷ ملکي تلفات (۲۲۶ مړينې او ۷۸۱ ټپي کيدنې)[12] تصديق کړې. طالبان په ۲۰۱۸ کال کې د ټاکنو په تړاو د نيمايي ملکي تلفاتو باعث شوي.[13]

په ۲۰۱۸ کال کې، د دولت پلوه ځواکونو له خوا د هوايي بريدونو په پايله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې د پام وړ زياتوالی مستند شوی، د ۲۰۱۷ کال په پرتله د دې تاکتيک د کارولو له لارې د ټولو ملکي تلفاتو په برخه کې ۶۱ سلنه زياتوالی او د مړينو په برخه کې ۸۲ سلنه زياتوالی راغلی. هوايي بريدونه د ټولو ملکي تلفاتو نهه سلنه جوړوي او له هغه راهيسې چې کله په ۲۰۰۹ کال کې يوناما د ملکي تلفاتو په مستند کولو پيل وکړ، د ډير زيات ملکي زيان د اوښتو لامل شوي. يوناما په انديښنې سره يادونه کوی چې په ۲۰۱۸ کال کې د هوايي عملياتو په پايله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې زياتوالی تر ډيره د نړيوالو پوځي ځواکونو د عملياتو په پايله کې را منځ ته شوی او د افغان پوځي ځواکونو په پرتله د زياتو ملکي تلفاتو لامل شوي. يوناما په ځانګړی توګه انديښنه لري چې په ۲۰۱۸ کال کې د تلاشي د عملياتو پر مهال د افغان ځواکونو ، په تيره بيا د ملي امنيت د رياست، خاصو ځواکونو په ملاتړ د نړيوالو پوځي ځواکونو له خوا ترسره شويو هوايي بريدونو د پام وړ مړينو د لوړو ارقامو په ګډون) زيات ملکي تلفات اړولي.

---

10 په دې شمير کې د دولت ضد عناصرو له خوا د افغان ملي پوليسو په نښه کولو بريدونه شامل ندي، کومو چې ۶۶۹ اضافي ملکي تلفات (۱۹۵ مړينې او ۴۷۴ ټپي کيدنې ) رامنځته کړي، ځکه چې د پوليسو هدف نيول ښايي د هغه خونديتوب څخه ګټه پورته نه کړي چې بنسټ يې په ملکي وضعيت ولاړ دی په هغو فعاليتونو پورې تړاو لري چې د جګړې پر مهال يې پر مخ وړل او کوم چې ښايي په دښمنيو کې د هغوي د مستقيم ګډون لامل شي (په هغو پيښو کې چې ملکي تلفات شميرل شوي يوازې هغه نور هم شامل دي چې متاثره شوي چا چې په جګړه کې برخه نه ده اخيستي). يوناما همدارنګه د دولت پلوه عناصرو لخوا هغه بريدونه نه دي شامل کړي چې موخه يې د نامعلومو موخو په نښه کول وو او کومو چې ټولټال ۱۶۲ ملکي تلفات (۴۲ مړينې او ۱۲۰ ټپي کيدنې) را منځ ته کړي.

11 دريمه ضميمه وګورئ:د عمدي وژنو د تعريف لپاره لغات.

12 د دغو ملکي تفاتو نږدې نيمايي برخه د اکتوبر په ۲۰ او ۲۱ د رای ورکولو په ورځو کې واقع شوې.

13 يوناما د ټاکنو په تړاو ټولټال ۱۸۹ پيښې د کومو په نتيجه کې چې ۵۰۸ ملکی تلفات (۱۰۲ مړينې او ۴۰۶ وژنې) را منځ ته شوې طالبانو ته منسوب کړې او د ټاکنو په تړاو د ځانمرګو او غير ځانمرګو ځای پر ځای شوی چاوديدونکو توکو ۷ پيښې د کومو په نتيجه کې ۳۳۸ ملکی تلفات را منځ ته شوې (۹۴ مړينې او ۲۴۴ټپي کيدنې) داعش ته منسوب کړې. د نورو توضيحاتولپاره د بريدونو په اړه د پارلماني ټاکنو په اړه په دريمه b.ii برخه کې د ملکيانو او ملکي موخو د عمدي هدف نيولو د بريدونو په اړه لاندې فرعي برخه وګورئ .

د ملکي تلفاتو په برخه کې د ټولیز زیاتوالي په پرتله، په ۲۰۱۸ کال کې د ښځو او ماشومانو تلفات را ټیټ شوې، خو بیا هم دا تلفات ډیر لوړ و. په داسې حال کې چې په ۲۰۱۸ کال کې د ماشومانو ټولټال ۳۰۶۲ تلفات (۹۲۷ مړینې او ۲۱۳۵ ټپې کیدنې) ریکارډ شوې، دا د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله یو څه ټولیز کموالی ښيي، د هوایي بریدونو او ځانمرګو بریدونو په پایله کې په ۲۰۱۸ کال کې[14] د ماشومانو مړینه ریکارډ لوړ حد ته پورته شوه او تلفات نږدې دوه برابره شوه. په ۲۰۱۸ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۲۸ سلنه ماشومان وو. په ۲۰۱۸ کال کې د شخړې سره د تړلو ملکي تلفاتو ۱۰ سلنه ښځې وي.[15] یوناما د ښځو ټولټال ۱۱۵۲ تلفات (۳۵۰ مړینې او ۸۰۲ ټپې کیدنې) مستند کړې، دا د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله ۶ سلنه کموالی ښيي، دا تر ډیره د ځمکنیو نښتو په پایله کې  د ښځو د تلفاتو په برخه کې د کموالي له امله را منځ ته شوی.

یوناما د دولت پلوه، افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ماشومانو د استخدام او کارولو په اړه په دوامداره توګه راپورونه ترلاسه کړي. په داسې حال کې چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د لیکو په دننه کې پرمختګونه شوې، د جنسي موخو لپاره او د هغو په شمول د ماشومانو کارول د یوې ستونزې په حیث پاته شوې، دولت ضد عناصرو د جګړه ییزو نقشونو لپاره د ماشومانو استخدام او کارولو ته ادامه ورکړې. که څه هم چې د جزا نوی تعدیل شوی قانون د ۲۰۱۸ کال په فبروري کې نافذ شو، صریحا د *بچه بازۍ عمل*[16] جنایي کوي، د دغو جرمونو لپاره احتساب د پام وړ یوه ننګونه ده.

د ۲۰۱۸ په اوږدو کې، یوناما د هغو بریدونو او ګواښونو په برخه کې چې معارف متاثره کوي زیاتوالی مستند کړی – دا د ۲۰۱۷ کال په پرتله دری ځله زیاتوالی ښيي، دا زیاتوالی تر ډیره بریده له دې امله را منځ ته شوی چې طالبان د پارلماني ټاکنو په درشل کې د رای ورکونکو د ثبت په مرکزونو او د رای ورکونې په مرکزونو چې په ښوونځیو کې واقع شوې بریدونه کړي. یوناما همداراز په ۲۰۱۸ کال کې د دولت ضد عناصرو په تیره بیا د داعش/ اسلامي دولت خراسان څانګې له خوا د افغان ملي امنیتي ځواکونو د ترسره شویو پوځې عملیاتو په غبرګون کې د تعلیمي مرکزونو په وړاندې د یوه رابرسیره کیدونکي تمایل په اړه اندیښنه لري.[17] یوناما همداراز د دولت ضد عناصرو له خوا د روغتیا پالنې په وړاندې د دوامداره بریدونو په اړه کوم چې په ۲۰۱۸ کال کې مستند شوې، اندیښمنه ده، او همدارنګه هغه اغیز په ګوته کوي چې په یو شمیر زیاتو ملکي کسانو یې لري.

14 په ۲۰۱۷ کال کې، یوناما  د ماشومانو ټولټال ۳۱۷۹ تلفات (۸۶۱ مړینې او ۲۳۱۸ ټپې کیدنې) مستند کړي. په ۲۰۱۸ کال کې، یوناما د ماشومانو ۹۲۷ مړینې مستندې کړې، دا د ورته لوړو  کچو د ریکارډ سره چې په ۲۰۱۶ کال کې ریکارډ شوې ورته والی لري.

15 د ښځو د تلفاتو ارقام ټولې ښځې احتوا کوي چې عمرونه یې ۱۸ کاله او یا د هغه څخه لوړ وي، نجونې چې عمرونه یې د ۱۸ کلونو څخه ټیټ وي د ماشومانو په تلفاتو کې حسابیږي.

16 دریمه ضمیمه وګورئ: لغات

17 په معارف باندې د وسله والې شخړې د اغیز په اړه دوهمه لاندې ج برخه وګورئ

### د ملکي تلفاتو منسوبونه

یوناما زیاتره ملکي تلفات -۶۳ سلنه- دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي، چې ۳۷ سلنه یې طالبانو، ۲۰ سلنه داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلي، او شپږ سلنه یې نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي.




دولت پلوه ځواکونه په ۲۰۱۸ کال کې د ۲۴ سلنه ملکي تلفاتو (۱۴سلنه د افغان ملي امنیتي ځواکونو، شپږ سلنه د نړیوالو نظامي ځواکونو، دوه سلنه د دولت پلوه وسله والو ډلو او دوه سلنه د نا معلومو دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا) لامل شوي.

د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ د ځمکنیو نښتو پر مهال د ډزو تبادله چې کوم مشخص لوري ته نه شوای منسوب کیدای د ۱۰ سلنه ملکي تلفاتو لامل شوي. د پاکستان له خوا پر افغانستان د توغندیو ګذارول نږدې د یوه سلنه ملکي تلفاتو لامل شوي. د ملکي تلفاتو پاتي دوه سلنه، چې عمدتا له جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي، هیڅ کوم لوري ته نه شوای منسوب کیدای.

### دولت ضد عناصر

په ۲۰۱۸ کال کې، یوناما ۶۹۸۰ ملکي تلفات (۲۲۴۳ مړه او ۴۷۳۷ ټپي) دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي، کوم چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله درې سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.[18] دغه زیاتوالی عمدتا په ملکي میشتو سیمو کې د ځانمرګو او د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د نورو تاکتیکونو د بې توپیره کارونې او په دغو وسیلو سره د ملکیانو عمدي په نښه کولو سره په تیره بیا د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې له خوا، او دغه راز د ځمکنیو نښتو پرمهال په ملکي میشتو سیمو کې او له ملکي میشتو سیمو څخه د هاوانونو،

[18] په ۲۰۱۷ کال کې، یوناما دولت ضد عناصرو ته ۶۷۶۸ ملکي تلفات (۲۳۰۳ مړه او ۴۴۶۵ ټپي) منسوب کړي.

لاسي بمونو او راکیټونو په ځیر د غیر مستقیمو وسلو د سیستمونو د کاروني له امله رامنځ ته شوي. دولت ضد عناصر په تیره بیا طالبان د هدفي وژنو او د ځمکنیو نښتو پرمهال د ډزو له امله د لږو تلفاتو لامل شوي.

یوناما طالبانو ته ۴۰۷۲ ملکي تلفات (۱۳۴۸ مړه او ۲۷۲۴ ټپي) منسوب کړي، کوم چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله اوه سلنه کموالي په ډاګه کوي د ټولو ملکي تلفاتو ۳۷ سلنه جوړوي.[19] یوناما داعش/د اسلامي ډولت خراسان ولایت ډلي ته ۲۱۸۱ملکي تلفات (۶۸۱ مړه او ۱۵۰۰ ټپي) منسوب کړي، کوم چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۱۱۸ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي د ټولو ملکي تلفاتو ۲۰ سلنه تشکیلوي.[20] یوناما ۷۲۷ ملکي تلفات (۲۱۴ مړه او ۵۱۳ ټپي) نورو نامعلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.[21]

د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي تلفاتو مخکښ لامل اوس هم ځانمرګي او ډله ییز بریدونه دي، کوم چې د ۲۸۰۹ ملکي تلفاتو (۸۸۶ مړه او ۱۹۲۳ ټپي) لامل شوي او د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۲۲ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي او په ۲۰۰۹ کال کې له کوم وخت راهیسې چې یوناما په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو مستند کول پیل کړي، یوازې په یوه کال کې د ولسي مرګ ژوبلې تر ټولو لوړ شمیر ګڼل کیږي. تعبیه شوي غیر انتحاري چاودیدونکي توکي تقریبا په ۲۰۱۷ کال کې د ورته ۱۸۱۸ ملکي تلفاتو ۴۷۵ مړه او ۱۳۴۳ ټپي) لامل شوي. دولت ضد عناصر د ځمکنیو نښتو پرمهال نږدې په ۲۰۱۷ کال کې د ورته ۱۳۹۴ ملکي تلفاتو (۲۹۱ مړه او ۱۱۰۳ ټپي) لامل شوي.

یوناما مني چې طالبانو دا په ډاګه کړې چې د ملکیانو د غوره ساتنې لپاره یې اقدامات ترسره کړي، خو د طالبانو له خوا د غیر مستقیمو وسلو د سیستمونو او د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو کارونه چې ملکي وګړي او ملکي شیان یې په نښه کړي، او دغه راز په ملکي میشتو سیمو کې د دولت پلوه ځواکونو په وړاندې د وسلو د کاروني په اړه چې بې توپیره اغیزې یې درلودې، د دوامدارې اندیښنې یادونه کوي.

**دولت پلوه ځواکونه**

یوناما دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي ۲۶۱۲ ملکي تلفات (۱۱۸۵ مړه او ۱۴۲۷ ټپي) مستند کړي، کوم چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله په ملکي تلفاتو کې ۲۴ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي. دغه زیاتوالي عمدتا د نړیوالو ځواکونو له خوا د هوایي عملیاتو او دغه راز د افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ترسره شویو چاپیزو عملیاتو له امله په ملکي تلفاتو کې د پام وړ زیاتوالي له امله رامنځ ته شوي. هوایي عملیات او ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو د ورته شمیر تلفاتو لامل شوي،[22] او په ۲۰۱۸ کال کې دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو مخکښ لاملونه ګڼل کیږي.

یوناما افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ۱۵۳۵ ملکي تلفات (۶۰۶ مړه او ۹۲۹ ټپي) منسوب کړي، کوم چې تقریبا د ۲۰۱۷ کال له شمیرو سره ورته دي. یوناما نړیوالو نظامي ځواکونو ته ۶۷۴ ملکي تلفات (۴۰۶ مړه او ۲۶۸ ټپي) منسوب کړي، چې زیاتره یې د هوایي عملیاتو له امله رامنځ ته شوي او له هغو شمیر زیات دي چې په ۲۰۱۷ کال کې ثبت شوي. دولت پلوه وسله والې ډلې د ۱۸۰ ملکي تلفاتو (۹۹ مړه او ۸۱ ټپي) لامل شوي، کوم چې د ۲۰۱۷ کال د شمیرو نږدې دوه برابره کیږي.[23]

په هوایي عملیاتو کې زیاتوالي د هغو ملکي تلفاتو کموالي بیرته زیات کړی چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ځمکنیو نښتو پرمهال رامنځ ته شوي، کوم چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۱۰ سلنه راکم شوي او د ۱۰۱۵ ملکي تلفاتو (۲۸۲ مړه او ۷۳۳ ټپي) لامل شوي.

---

[19] طالبانو ته له منسوب شویو پیښو، دغې ډلې د ۱۵۳ بریدونو مسوولیت پر غاړه اخیستي چې د ۹۴۳ ملکي تلفاتو (۳۱۹ مړه او ۶۲۴ ټپي) لامل شوي.

[20] داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته له منسوب شویو پیښو، دغې ډلې د ۴۵ بریدونونو مسوولیت پر غاړه اخیستی (چې زیاتره یې ملکی وګړي په نښه کړي) کوم چې د ۱۷۵۲ ملکي تلفاتو (۵۱۴ مړه او ۱۲۳۸ ټپي) لامل شوي.

[21] په دې کې نامعلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ۶۷۸ ملکي تلفات (۱۹۶ مړه او ۴۸۲ ټپي)؛ هغو وسله والو ته چې ځانونه د داعش/اسلامي دولت د خراسان ولایت ډلې جنګیالي معرفي کوي منسوب ۱۹ ملکي تلفات (۱۱ مړه او اته ټپي) ؛ تحریک طالبان پاکستان ته منسوب یوه وژنه او پاته نور ملکي تلفات چې په ګډه د دولت ضد عناصرو مختلفو ډلو ته منسوب شوي، شامل دي.

[22] په ۲۰۱۸ کال کې، هر یو هوایي عملیات او ځمکنۍ نښتې د ۱۰۱۵ ملکي تلفاتو لامل شوي. که څه هم یوناما ملاحظه کړي، چې د هوایي عملیاتو له امله د رامنځ ته شویو ملکي تلفات شمیر (۵۳۶) د ځمکنیو نښتو له امله د رامنځ ته شویو تلفاتو د شمیر (۲۸۲) په پرتله دوه برابره زیات و.

[23] پاتې ملکي تلفات نا معلومو مختلفو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي.

یوناما د ځمکنیو نښتو له امله رامنځ ته شوي نږدې ټول ملکي تلفات افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب کړي، چې دوه سلنه یې نړیوالو نظامي ځواکونو ته منسوب شوي.

یوناما له هوایي عملیاتو څخه ۱۰۱۵ ملکي تلفات (۵۳۶ مړه او ۴۷۹ ټپي) مستند کړي.[24] له دغو تلفاتو یې ۶۳۲ ملکي تلفات (۳۹۳ مړه او ۲۳۹ ټپي) نړیوالو نظامي ځواکونو، ۳۰۴ ملکي تلفات (۱۱۸ مړه او ۱۸۶ ټپي) افغان هوایي ځواک او پاته ۷۹ ملکي تلفات دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي. چاپیز عملیات د ۳۵۳ ملکي تلفاتو (۲۸۴ مړه او ۶۹ ټپي) لامل شوي، چې زیاتره یې د ملي امنیت ریاست د ځانګړو ځواکونو او خوست ژغورني ځواک له خوا اړول شوي، چې دواړه یې د نړیوالو نظامي ځواکونو له ملاتړ څخه برخمن دي.[25]

د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره د دولت پلوه ځواکونو هڅو لکه د پالیسي ګانو او هڅو دوامدار تطبیق څو ځواکونه وروزي، د ملکي تلفاتو پیښني معلومي او له هغوي زده کړې وکړي، د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتو په کموالي کې مرسته کړې، په داسي حال کې چې پر هوایي بریدونو او چاپیزو عملیاتو د هغوي زیاتي اتکا د تلفاتو د زیاتیدو لامل شوي.

## سپارښتني

یوناما د جګړې ښکیلو خواوو ته راتلونکي سپارښتني وړاندې کوي څو ملکي وګړي وساتي، د ملکي تلفاتو مخنیوی وکړي او د بشرپالني او بشري حقونو تر نړیوالو قوانینو لاندې خپل مکلفیتونه رعایت کړي.

## دولت ضد عناصر

- د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو پرمهال په ځان پورې تړلو او په نقلیه وسیلو کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د کارونې په ګډون په ځانګړې ډول کله چې دغه ډول وسیلې په بې توپیره او بې تناسب ډول په ملکي میشتو سیمو کې کارول کیږي، د ټولو تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د بې توپیره او بې تناسبه کارونه ودروي، او د ناقانوني فشاري ماینونو کارونه زر تر زره پای ته ورسوي.
- د راتلونکو انتخاباتي پروسو په زمینه کې، د ټاکنو اړوند پر ټولو تسهیلاتو له بریدونو او د ټاکنو اړوند کارمندانو او رایه اچوونکو له ګواښونو ډډه وکړي: دا یقیني کړي چې هغه ښوونځي، روغتیایي مرکزونه او عبادت ځایونه چې ښایي د ټاکنو لپاره وکارول شي له برید څخه خوندي دي او افراد کولي شي چې په خوندي او ازاد ډول په ټاکنو کې ګډون وکړي.
- د ملکي وګړو او ملکي شیانو عمدي په نښه کول ژر تر ژره ودروي. د دولت د ملکي ادارو، د بشري حقونو د مدافعینو، قاضیانو، ژورنالستانو، څارنوالانو، د ښوونځیو د ښوونکو، د لومړنیو مرسته رسوونکو او مرستندویه کارمندانو عمدي هدف ګرځول- په تیره بیا د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې له خوا- باید سملاسي ودرول شي.
- له ملکي میشتو سیمو او پر ملکي میشتو سیمو د غیر مستقیمو وسلو د سیستمونو (هاوانونو، راکیټونو او لاسي بمونو) کارونه ودروي.
- دا یقیني کړي چې ټولې لارښووني او حکمونه د بشرپالني له نړیوال قانون په ځانګړې ډول د احتیاط، توپیر او تناسب له اصولو سره په سمون کې دي او د بې توپیره بریدونو یا د داسي بریدونو ترسره کوونکي محاکمه کړي چې ملکي وګړي او ملکي شیان یې په نښه کړي. د "ملکي" هغه تعریف تطبیق کړي چې د بشرپالني له نړیوال قانون سره په سمون کې دی، د طالبانو د مشرتابه هغه اعلامیې تطبیق کړي کومې چې د ملکي وګړو او ملکي میشتو سیمو په وړاندې بریدونه منع کوي؛ هغه لارښووني او حکمونه عملي کړي چې طالبانو ته د ملکي تلفاتو د مخنیوي امر کوي؛ او د طالبانو د ملکیانو د ساتني پالیسي ګاني د خلکو ترمنځ عامي کړي.

---

[24] دا د ۲۰۱۷ کال سره پرتله شوي، چیرې چې یوناما د دولت پلوه ځواکونو له خوا د هوایي عملیاتو له امله رامنځ ته شوي ۶۳۱ ملکي تلفات (۲۹۵ مړه او ۳۳۶ ټپي) ملکي تلفات ثبت کړي.
[25] دا د ۲۰۱۷ کال سره پرتله شوي، چیرې چې یوناما د دولت پلوه ځواکونو له خوا د چاپیزو عملیاتو له امله رامنځ ته شوي ۹۲ ملکي تلفات (۶۳ مړه او ۲۹ ټپي) ملکي تلفات ثبت کړي

- د هغو لارښوونو او حکمونو د تطبیق لپاره اقدامات ترسره کړي، چې د ماشومانو ګمارنه او کارونه منع کوي او د هغو قوماندانانو لپاره احتساب یقیني کړي، څوک چې ماشومان ګماري او کاروي.
- د پولیو د واکسیناتورانو او کمپاینرانو په ګډون د روغتیایي کارمندانو په وړاندې ټول بریدونه او ګواښونه ودروي، د ښوونځیو او پوهنې اړوند پرسونل په وړاندې ټول بریدونه او ګواښونه پای ته ورسوي او دا یقیني کړي چې پوهنې ته د ماشومانو لاس رسي د نظامي عملیاتو له امله نه دی اغیزمن شوي.

**افغان دولت**

- د خوست ژغورني ځواک په ګډون، زر تر زره ټولې نا قانونه وسله واله ډلې او ملیشې منحل او بې وسلې کړي، یا یې غړي په رسمي ډول په افغان ملي امنیتي ځواکونو د چاڼ تر یوې پیاوړې کړندود وروسته ځای پر ځای کړي؛ د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو د عملیاتو په تړاو شفافیت او احتساب زیات کړي، کوم چې د حکومتي د رسمي قوماندې له تسلسل څخه بهر ښکاري او باید د نړیوالو نظامي فعالینو سره همغږي شي؛ او د بشري حقونو ټولې سرغړونې او د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه د تیري ټول تورونه د احتساب د یقیني کولو په موخه وڅیړي.
- له ملکي میشتو سیمو او پر ملکي میشتو سیمو د غیر مستقیمو وسلو د سیستمونو (هاوانونو، راکټونو او لاسي بمونو) کارونه ودروي؛ د جنګي الوتکو د کارونې په تړاو د تاکتیکي لارښوونو، د جګړې د اصولو او نورو طرز العملونو طرحه کول او بهتر کول جاري وساتي.
- د ساتنې او امنیتي د اوسنیو اقداماتو د تقویه کولو، د مخه نیوونکو میکانیزمونو غښتلي کولو او د ځېل شویو ټولنو سره د غوره همغږۍ او اړیکو د یقیني کولو په ګډون، د دیني مشرانو او دغه راز له فرقه ییزو انګیزه لرونکو بریدونو څخه د شیعه مذهبه لرکیو د ساتنې لپاره هڅې زیاتې کړي.
- د قوماندې، کنترول، او د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د استحصال په ګډون، د دغو توکو د له منځه وړلو  لپاره د موثرو عملیاتو د ترسره کولو په برخه کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو ظرفیت تقویه کول جاري وساتي ، او دا یقیني کړي چې دولت د دې لپاره ټولې اړینې سرچینې ځانګړې کوي څو د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په ضد د ملي ستراتیژۍ بشپړ تطبیق یقیني کړي.
- د دې په پام کې نیولو سره چې ښایی د راتلونکو هرو ټاکنو لپاره به په پراخه کچه ښوونځي او په کمه کچه روغتیایي مرکزونه او جوماتونه وکارول شي، ټول هغه مخه نیوونکي اقدامات تقویه کړي چې ملکي وګړو په ځانګړې ډول ماشومانو ته د بالقوه زیان کچه لا راکموي.
- د عمر معلومولو او چاڼ طرز العملونه تقویه کړي او په افغان ملي پولیسو کې د ماشومانو ساتنې د واحدونو چارې لا پسې پراخې کړي څو په چیک پوستونو کې فعاله او ګټوره څارنه ځای کړي چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د غړو له خوا په جګړه ییزو او غیر جګړه ییزو نقشونو کې د ماشومانو د کارونې د پېښو مخنیوی وکړي؛ د جزا په تعدیل شوي قانون کې د بچه بازۍ اړوند احکام تنفیذ او د ماشومانو په وړاندې د جنسي تاوتریخوالي د جرمونو لپاره احتساب یقیني کړي.
- دا یقیني کړي چې د جګړې د زیان ارزونې په پوره پاملرنې سره ترسره شوي، او د عملیاتي چاپیریال په پام کې نیولو سره، که چیرې شونې وي، د تیرو عملیاتو د اغیز په اړه نظامي ځواکونو ته د معلوماتو ورکولو موثر میکانیزم برابر کړي، څو په راتلونکې عملیاتي پلان جوړونه کې مرسته وکړي؛ د ملکي تلفاتو تر تورونو وروسته د زیان د پراخو ډولونو د معلومولو، شفافیت د یقیني کولو، د عملیاتي کړنو بهتره کولو، د احتساب ته وده ورکولو او له زیان د اغیزمن شویو وګړو لپاره د خسارې د مناسبو، موثرو او چټکو جبرانونو د برابرولو یقیني کولو په موخه تر عملیاتو وروسته بیا کتنې او څیړنې جاري وساتي.

**نړیوال نظامي ځواکونه**

- د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره، په تیره بیا د هغو هوایي بریدونو په زمینه کې چې په سیمه کې تر برید لاندې د راغلو افغان او/یا نړیوالو نظامي ځواکونو د ملاتړ لپاره ترسره کېږي او یا په بله هره زمینه کې پر ودانیو د ترسره کېدونکو بریدونو لپاره موجوده تاکتیکي پروتوکولونه په بشپړ ډول بیا وګوري او غښتلي کړي.
- د هوایي عملیاتو او چاپیزو عملیاتو په پایله کې د ملکي تلفاتو تر تورونو وروسته د زیان د پراخو ډولونو د معلوملو، د شفافیت د یقیني کولو، د عملیاتي کړنو بهتره کولو، احتساب ته د ودې ورکولو او د زیان د اغیزمن شویو وګړو لپاره د خسارې د مناسبو، موثرو او چټکو جبرانونو د برابرولو د یقیني کولو په موخه تر عملیاتو وروسته بیا کتنې او څیړنې جاري وساتي.
- افغان ملي امنیتي ځواکونو ته په پالیسي، عملیاتي او تاکتیکي کچو د دوامدارو روزنو، سرچینو او اړوند ملاتړ د برابرولو له لارې د ملکي وګړو د تلفاتو د مخنیوي د ملي پالیسي په تطبیق کې د افغان دولت ملاتړ جاري وساتي، په ځانګړي ډول له غیر مستقیمو وسلو او جنګي الوتکو څخه ملکي وګړو ته د زیان اوښتلو د مخنیوي لپاره مخه نیوونکي اقدامات ترسره کړي.
- له افغان همکارانو سره د ملکي تلفاتو د پېښو د بیا کتنې هڅې غښتلي کړي کومې چې د ګډو عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوي؛ د افغان ملي امنیتي ځواکونو لپاره د جګړې د زیان د ارزونو په ترسره کولو کې زیاته روزنه او مرسته برابره کړي؛ او په هغو پېښو کې چې ملکي تلفات رامنځ ته شوي، له اغیزمن شویو ټولنو سره د هغوي د افغان همتایانو لارې ګډون او ښکیلتیا زیاته کړي.

